ليکوال : رابيندرانات ټاګور

له اوردو څخه د محمد هارون خپل شعشعي ژباړه


۱۴ سپتمبر ۲۰۱۱



## کابلي والا[۱]

د رابيندرانات ټاګور (۱۸۶۱ - ۱۹۴۱ع ) له ادبي، علمي او فلسفي مقام سره د نړۍ والو ادبياتو مينان او شوقيان، په بشپړه توګه اشنايي لري . ټاګور لومړنی غير اروپايي ؤ، چي په ۱۹۱۳ع کال يي په ادبياتو کي د نوبل نړۍ واله جايزه وګټله؛ خو د نوبل نړۍ واله جايزه د ټاګور د ستر ادبي او علمي شهرت يوازنی دليل نه دئ . دي مبتکر او متفکر ليکوال، شاعر، اديب، موسيقي پوه اوفيلسوف، په واقعيت کي، د خپلو لوړو ادبي تخليقاتو او ژورو علمي - فلسفي شهکارو په مرسته د نړۍ د بېلابېلو اولسو وادبياتو ته لار موندلي ده؛ او درانه اثار يي د نړۍ په بېلابېلو ژبو ترجمه سوي دي . فاضل استاد - اروابناد عبدالرؤف بېنوا ( ۱۲۹۲ش/ ۱۹۱۳ع - ۱۳۶۳ش/ ۱۹۸۵ ع) يي مشهور اثر (ګيتانجلي) په ۱۳۳۶ ش کال په پښتو و ژباړه، چي په « انيس » ورځپانه کي پر پرله پسي خپرېدو سربېره، د مستقل کتاب په بڼه هم خپور سو. د خدايي ميني همدا ژور او په زړه پوري فلسفي اثر دوهم پلا، په ۱۳۵۴ ش کال د پښتو د وتلي او منلي استاد- اروښاد علامه عبدالشکور رشاد ( ۱۳۰۰ ش / ۱۹۲۱ع - ۱۳۸۳ ش / ۲۰۰۴ ع)) له خورا مفصلي اودقيقي تاريخي سريزي سره چاپ سو. وروسته د ډاکتر عبدالغفور روان فرهادي له خوا هم، په پارسي ژبه، ترجمه او خپور سو . « تاج » د رابيندرانات ټاګور يو بل ارزښتناک اثر دئ،

چې د ښاغلي محمد علم خان بڅرکي ( ۱۳۰۰ش/ ۱۹۲۱ع - ۱۳۸۴ش/ ۲۰۰۲ع) له خواء په پښتو ژباړل سوئ دئ . ښايي د ټاګور ځيني نور اثار هم په پښتو يا دري ژبو خپاره سوي يي، چې زه يي په خپرېدو نه يم خبر .
که څه هم رابيندرانات ټاګور د لوېديځ ښکالو په خورا معتبره او اشرافي کورنۍ کي زوکړی ؤ؛ د قدرت، دولت او شهرت هيڅ کمي يي نه لرله؛ خوانساني مينه يي تر ټولنيزو، اقتصادي، نژادي او مذهبي پولو اوښتي وه . د هغه ټلپاته فلسفي اثار د سپېڅلي ميني او فکري بشپړتيا ډېرلوړ او مهم شهکارونه دي . د ټاګور اوسنی کيسه ( کابلي والا) په خپله هم د ده د لوړي انساني ميني او ژور عاطفي احساس، روښانه ثبوت دئ . دا ښکلي او په زړه پوري کيسه د هغه پردېس افغان د ژوندانه دردناک انځورکاري، چې د امير عبدالرحمان خان د پاچهی پر مهال، له خپلي کورنی او عزيزانو، خپل کلي او مالت، خپلو غرو او داګو څخه زرونه ميله ليري، کلکتې[2] په خوارۍ او غريبی پسي تللئ دئ؛ او د پردېسی پر سوځونکي درد سربېره يي، کلونه کلونه د بنديخاني په ځلورو دېوالو کي هم تېر کړي دي . کيسه پر ژورو عاطفي اړخو سربېره، تاريخي او سياسي ارزښت هم لري . دا تاسي او دا هم د کابلي والا کيسه :

زما لور، موني، ګرسره د پينځو کالو وه؛ خوسره له دې بې( به يي) هم يوه شيبه ژبه نه درېدله؛ هرومرو بې څه ناڅه ويل . په دولسو مياشتوکي پر خبرو راغله؛ مور بې تل په مِنت او سُنت سره اړ ايستله، چې خوله بنده وساتي؛ او په بې ځايه ګډېدو يي ماغزه ورشلومبي نه کي . ما د دي کار وس نه لاره؛ ځکه زما په نظر د موني چپتيا( چوپتيا) د طبيعت پر خلاف خبره وه، چي ما تر ډېره نسوای زغملای . له دې کبله ما او هغي تل زړه خلاصي خبري او مرکي کولي .

سهار مهال ؤ، چې ما د خپل ناول د اويايمي برخي په ليکلو پيل وکړ. نابېره موني راغله؛ او راته ويې ويل : « دا چوکيدار، بابا ديال، توري مرغی ته کارغه وايي؛ خوارکی بابا په هيڅ نه پوهېږي . » موني خپلي خبري پسي اوږدي کړي؛ او زه مخکي تر دې چې د نړی له بېلابېلو ژبو څخه د هغي د ځينو نامفهومو ټکو په توپير او مانا و پوهېږم، دې به د بلي کيسي سر کښېښناوه . را ږغ يي کړه : « دا بابا رام ديال وايي، چې په اسمان کي يو پيل دئ . کله چې له شونډکه اوبه وپاشي، بيا نو پر مځکه باران اوري . نه پوهېږم دا بابا عجبه عجبه خبري کيي( کوي) . تر دي خبرو وروسته موني سَوْکَه سَوْکَه د ليکني مېز ته نيژدې زما له پښو سره کښېښنسته . په داسي حال کي، چې ځنګنونه يي په دواړو لاسو نيولي وه، په لوبو او ساتېري اخته سوه . موني په لوبو او ساتېري لګيا وه؛ او هم ما د خپل ناول اويايمه برخه پيل کړه، چې په هغي کي پرتاب سينګ د مابس( محبس) له لوړو کړکيو او مزبوتو پنجرو څخه کنچن مالابرمته کيي؛ او ځانونه د مابس په ښنګ کي تېري سوي لو (لويي) ولي ته غورځيي .

زما کور د سړک پر غاړه دئ؛ ځکه نو د سړک ټولي پيښي او حالات، په ډېري اسانی سره، له خپلي خوني څخه ګورم . لا د ناول په ليکنه اخته وم، چې موني ناڅاپه بازۍ پرېښوولي؛ او د کړکی خواته يي وځغستله؛ په زوره زوره يي ناري کړې : « کابلي والا! او کابلي والا! » کابلی والا، چې لوی او اَرَت کالي يي اغوستي؛ بګړی يي تړلي؛ پر ملا يي لو توبره ځړولي؛ او په لاسو کي يي د انګورو دري - ځلور قطی نيولي وې، دنګ بنګ، غټ مټ سړی ؤ، چي زموږ کورته نيژدې پر سړک رهي ؤ . نبخه زما د دي سيده ساده لور په زړه کي څه ور وګرځېده،چي سمدلاسه يي کابلي ته ور ږغ کړه . ما له ځان سره سوچ وکړ، چې که دا توبره ولا کابلی، دا بې درمانه بلاء، دي خوا ته را زرغون سي، ما به د دونيا له کاروباره وباسي؛ او د ناول اويايمه برخه به مي نيمګړي پاته سي . کابلي د موني د چغو او نارو په اروېدو سره وخندل؛ او مخامخ زموږ د کور پرخوا را رهي سو؛ مګر موني دکابلي تر را رسېدو دمخه، ځان د ښځو په هغه خونه کي نيهام کړ، چې کابلي له د باندي څخه نسوای ليدلای

. ښايي موني د کابلي له هغي توبرې څخه ببرېدلي وه، چي د دې په څېر څو کوچنيان پکښي ځايېدلای سوای .
خير، کابلی په څو شېبوکي زما د خوني مخ ته ودرېدئ؛ او سلام يي وکئ . زما اندېښنه دا وه،چي د ناول اتل، پرتاب سينګ او اتله، کنچن مالا، اوس داسي حساس او نازک پړاو ته رسېدلي،چي پرېښوول يي سم او خوندور نه را ته برېښېده . له بله پلوه دا خبره هم سمه نه وه، چي کابلی مو د کور دروازې ته را غوښتئ وُ؛ خو بېله له څه رانيولو موهسي ځنډولای وای . له همدې سَوَبه مي يو څه ځني رانيول؛ او په دې ډول زما او کابلي تر منځ خبري اتري پيل سوې . اول مو د افغانستان د پاچا، امير عبدالرحمان خان، په اړه څو خبري وکړې؛ بيا مود روسانو په باب څه يادونه وکړه؛ او وروسته د امير عبدالرحمان خان او انګرېزانو د تړون [٣] په باره کي وږغېدو. کابلي، د رهي کېدو پر مهال و ويل : « بابوجي : آ لورکی دي څه سوه، چي مخکي يي ناري را وهلي! » د موني په زړه کي له کابلي څخه د بي ځايه بېري او تراه ورکولو دپاره ما هغه له کور څخه دباندي را وغوښتله . موني راغله؛ خو له بېري يي ځان په ما پوري ټينګ موښلولئ وُ ؛ کابلي او د هغه بېرونکي توبرې ته يي په ترهېدلو سترګو کتل . وروسته، کابلي له خپلي لويي توبرې څخه څه کشمش او زردالو را و ايسته؛ او موني ته يي وړاندي کړه . موني نه يوازي هغه وانخيسته، بلکي پخوانی بېره يي نوره هم زياته سوه؛ ځان يي زما په ځنګنو پوري ټينګ و موښلاوه . دا وُ د موني او کابلي د لومړی کتني ټول ښه او بد.
څو ورځي وروسته، د کم (کوم) کار په مقصد له کوره و وتلم، که مي کتله موني له دروازې سره پر چوکی ناسته ده؛ او لکه ماته راډيو پرله پسي خبري کيي؛ کابلی يي و څنګ ته ناست دئ؛ او په ځير ځير يي خبرو او مرکو ته غوږ نيولئ دئ؛ کله کله يي پر خبرو خاندي؛ او کله کله په ماته ګوډه بنګالي ژبه، خپل نظر هم ورته وايي . موني په خپل پينځه کلن ژوند کي، بې پلاره د کابلي په شان داسي څوک نه وُ لېدلئ، چي وخبرو ته يي په مينه او توجه غوږ نيولئ وای . ما ليدله، چي د موني کوچنۍ لمن به همېشه له بادامو، مميزو او جَوْزو ډکه وه . يوه ورځ مي کابلي ته و ويل : « خانه! تکليف مه کوه؛ موني ته دا دونه مېوې مه ورکوه! » هغه ته مي تر دې خبرو او نصيحتو وروسته يوه اټانی ( اته اني يا د روپی نيمايي) ورکړه، چي ده هم په چټکی سره واخيسته؛ او په خپله توبره کي يي واچوله . کله چي تر څه ځنډ وروسته بيرته کورته ننوتم، ګورم چي هغي اټانی په کور کي لو شخړه جوړه کړې وه . د موني مور يو برېښندونکی ګيردی فلز په لاس کي نيولئ وُ؛ او په درد او خښم يي له موني څخه پوښتنه کوله : « وايه! دا اټانی چا در کړې ده! » موني په جواب کي ورته وايي : کابلي را کړې ده . مور يي بيا پوښتنه ځني کيي : « تا ولي ځني اخيستله؟ » موني په ژړا ژړا ورته وايي : « ما خو نه وه ځني غوښتي، هغه په خپله راکړه . » د دې لانجي د حلولو دپاره ما موني خپلي خوني ته را وغوښتله . تر پوښتنو ګروېږنو وروسته را ته مالومه سوه، چي دا د موني او کابلي دوهمه کتنه وه . کابلي زياتره موني ته پسته، بادام او داسي نوري مېوې ورکولې؛ او په دې توګه يي زموږ د مخ ماتي او سپېڅلي موني کوچني موچني زړه ته لار پيدا کړې وه .  زه ګورم، موني تل د کابلي په ليدو سره، چي رحمت نومېده، د زړه له کومي خاندي؛ او داسي پوښتني ځني کيي : « کابلييه! په توبره کي دي څه شي دي؟ » رحمت ببله اړتيا د يوه نون په زياتولو سره جواب ورکيي : « په توبره کي مي هانتي ( پيل ) دئ . » د کابلي په اند، دا ډېره خوندوره ټوکه ښکارېده، چي همېشه به يي له موني سره کوله . هغوی دواړو له دې ټوکي څخه، که څه هم چندان خوندوره او خندوونکي نه وه، ډېر خوند اخيستئ .
د مني په شپو او ورځو کي له يوه پاخه سړي سره د يوې کوچنی نجلی د سپېڅلي او بې غرضه راز و نياز په اروېدو به زما هم د زړه سودَه کېده؛ او وخت به په خوښی سره تېرېدئ . رحمت به له موني څخه پوښتنه کوله : « ميني بابا! ته هيڅکله واده نه کيې! او د خُسر کره نه ځې! » پخوا به بنګالی نجوني له زېږېدو څخه د خُسر او

ځسرګنی په مانا پوهېدې؛ خو زموږ موني له دې امله،چې په نوي عصر او نوو حالاتو کې زوکړې وه، تر اوسه په دې خبرواو مسألو نه پوهېده؛ ځکه یې نو د رحمت د خبرې په مفهوم سر نه ؤ خلاص سوئ . سره له دې بې هم، د رحمت پوښتنه بې جوابه پرېښوول، د موني له خوی او عادت څخه لیري کار ؤ . هغې په جواب کې له کابلي څخه هماغه پوښتنه کوله : کابلییه! ته واده نه کېې! د ځسر کره نه ځې! » رحمت به یو درونډ شی پورته کړ؛ او د موني د خندولو دپاره به یې خپل ځسر په وواهه . موني بابا! زه خپل ځسر په دغه شي ولم . » که څه هم د رحمت د تش ټپ ټپ او خالي ګوزارو په مفهوم نه پوهېدله؛ خو سره له هغه به یې هم د هغه دې خندونکو ګوزارو ته په کټ کټ خندل؛ او یوه شېبه بې خوله له خندا نه ور ټولېده .

د مني موسم ؤ . په دې موسم کې به د راتلونکي وخت پاچا او شازاده ( شهزاده) د نړۍ نیولو په نیامت تر خپل پاچهي قلمرو دباندې وتل . زه هیڅکله له کلکتې څخه نه یم وتلئ . له دې کبله د ټولي نړۍ په باره کې فکر کوم . که څه هم تل د خپل کور په یوه ګوښه کې اوسم؛ مګر زړه مې تل په بهرنۍ نړۍ کې ګرځي . د یوه بهرني هیواد په اروېدو سره مې خیالونه او سوچونه هم هغې خواته ټوپونه وهي . کله چې کم هیواد پردېس او مسافر و وینم، نو سمدستي مې د خیالو او سوچو په دونیا کې د هغه هیواد د کم رود، غره یا ځنګله په لمن کې د یوې کوچنۍ جونګړې اوپه  هغې کې د ازاد او خوشاله ژوندانه انځور هم سترګو ته ودرېږي . سره له دې، چې زه تل د ګرده نړۍ په اړه سوچونه کوم؛ خو عملاً د هغې درختي (وني) په شان یم، چې ریښې یې په مځکه کې ټینګې ښخې دي؛ او هیڅ خواته نسي ښورېدلای . هرکله چې له کور څخه د وتلو تکل کوم، داسې را ته ښکاري لکه پر سر چې مې لوی غر را چپه کیږي . له همدې اسیته به د سهار پر مهال په خپله کوچنۍ خونه کې مېز ته نیژدې کښېنستم؛ او د کابلي د خبرو په اروېدو سره به مې په زړه کې د سیاحت او ګرځېدو مینه ماتوله . کابلي به په ماته ګوډه بنګالي ژبه د خپل هیواد او سیمې بېلابېل حالات را ته بیانول . د هغه له خبرو او مرکو څخه به زما په ذهن کې د داسې لارې تصویر کښل کېدئ، چې دواړو خواوو ته بې سره ډېرینه بې اوبو او بې وښو مځکه پرته وه؛ او د لارې په اوږدو کې به د بګړۍ تړلو سوداګرو او لارې نیوونکو کاروان رهي ؤ . څوک به پر اوښ سپور ؤ؛ څوک به پر پښو روان ؤ؛ د چا په لاس کې به زوړ توپک؛ او د چا چا په لاسو کې به برچه  یا سپلاوه وه .

د موني مور داسې خوی لاره، چې په کوچنیو او وړو خبرو به ډېره اندېښمنه کېدله . کله چې به پر سړک د لارویانو زوږ یا غالمغال واروېدل سو؛ نو دې به داسې ګڼل، چې ګوندې د  جهان  ګرده شرابیان او نشه یان  د دې کورته ور روان دي . که څه هم عمر یې دونه نه دئ؛ خو بیا هم د ژوندانه په چارو پوهیږي . سره له دې هم د هغې په زړه کې دې بېرې او اندېښنې پوخ ځای نیولئ،چې د نړۍ  ګوټ ګوټ په غلو، شرابیانو، مارانو، زمریانو، د ملاریا  په غوماشو او نورو خزندو ډک دئ . د همدې اندېښنې او ډار په لرلو سره، هغې پر رحمت هم د ښه سړیتوب باور نسوای کولای؛ ځکه به یې نو ما ته په ټینګار سره ویله، چې تل د هغه پر کړو وړو پام و کړم . ما به په خندا خندا د هغې خبرې تېرولې؛ اوکوښښ به مې کاوه، چې دا ناوړه شک او ګومان یې له زړه وباسم؛ اما هغې به بیا هم د خپلې بیرې او اندېښنې له مخې داسې پوښتنې کولې : «  ایا هغه هیڅکله د چا کوچنی نه دئ غلا کړئ؟!  ایا په کابل کې مریان نه خرڅیږي؟ ایا دغه دنګ بنګ کابلي ته د یوه کوچني ماشوم غلا کول او برمته کول څه ګران کار دئ ؟! »  منم هغه څه، چې د موني مور یې وایې، ټوله شوني او کېدونکي وه؛ خو سره له دې هم د کابلي رحمت په اړه داسې ګومان، بېخي ناسم او له انصافه لیري ؤ . خیر، د باور او اعتماد حس په هر چا کې یو شان نه یې؛ زما د مېرمنې په زړه کې همېشه باور لږ؛ خو بېره ډېره وه . د بې باورۍ او بدګومانۍ له دې ټولو خبرو او اندېښنو سره سره، ما رحمت خپل کور ته له راتلو هیڅکله بند نه کئ .

هر کال به رحمت د جنورئ او فبرورئ په میاشتو کي خپل وطن ته تئ . تر ستنېدو مخکي به کور په کور ګرځېدئ؛ او له خپلو پوروړو څخه بې د پور پاته پیسي اخیستي . د کال په دغو ورځو کي بې پر زیاتو بوختیاوو سربېره، د موني لیدنه هم، نه ناغه کوله . که به سهار را ښکاره نه سو، نو ماښامي مهال خو بې هرو مرو حاضري ورکوله . د کوټې خلګ به زموږ له کور سره د هغه په لېدو هېښ پېښ وه . د یوه جګ، لوړ، غټ مټ سړي لیدو، چي پراخ او اوږده کالي بې هم اغوستي وه؛ لویه توبره بې تر ملا تړلي وه؛ او چیري به په تېاره او تورتم کي یوې ګوښې ته غلی ناست ؤ، خامخا د خلګو په زړو کي اندېښنه او تراه را پاروله . کله چي به موني د « کابلی والا »، « کابلي والا » ناري ووهلي؛ او په څَوَب او میني سره بې د هغه پر خوا ور وځغستله؛ او تر منځ بې د خندا او ټوکوهمېشنی خبري پیل سوې، چورتي او اندېښمن خلګ به هم ټول ډاډه کېده، چي کوټې ته یي کم خطرناک څوک نه دئ ورغلئ .

سهار وختي په خپله خونه کي ناست وم؛ او د یوې مسودې پروف مي لوستئ . هوا ډېره سړه وه؛ ژمي د هري ورځي په تېرېدو سره خپل زور او سختي ښووله . تر هغه مهاله چي د لمر وړانګي به تر کړکی را تېرېدي؛ او د مېز تر څنګ به زما پر پښو لګېدي؛ او له تودوخي څخه به مي ټول وجود غوړېدئ، د سهار اته بجي به سوې . دا وخت به زموږ له کور څخه د هغو مزدورو ښځو ځیني ځیني هم تر سترګو کېدې، چي سرونه او غوږونه بې په تودو دوسملو پېچلي وه؛ او د چوېږ کولو دپاره به د خپلو مالکانو وکورو ته ور رهي وې . په همدې شېبو کي مي نابېره د خلګو بې ساري ناري او ږغونه تر غوږه سوه . چغي او ناري کرار کرار زیاتي سوې . زه هم اندېښمن غوندي سوم . چي مخ مي ور واړاوه، ګورم د پولیسو دوو سپاهیانو رحمت ټینګ نیولئ دئ؛ او غواړي، چي له ځانو سره یي خپلي اداري ته بوزي . ډېر خلګ د سپاهیانو او رحمت پر شاوخوا را ټول سوي وه . د رحمت پر جامو د وینو ټپلي ښکارېدي؛ او د یوه سپاهي په لاس کي، په وینو لړلي چاړه هم تر سترګو کېده . زه هم دباندي ور ووتم؛ او له سپاهیانو څخه مي د پېښي په اړه پوښتنه وکړه . د سپاهیانو او رحمت تر لنډو خبرو وروسته مي سد ورسېدئ، چي کم چا زموږ په ګاونډیتوب کي له کابلي رحمت څخه یو رامپوري شال په پور اخیستئ ؤ؛ او د هغه څه پیسي تر اوسه لا پر پاته وې؛ مګر پوروړي له شال رانیولو څخه کوړَتې نټه کړې وه . په همدې وجه یي شخړه او جنجال ورو ورو تاو اخیستی ؤ . خبره په پای کي دې ته رسېدلې وه، چي رحمت خپل پوروړی په چاړه وهلئ ؤ . په همدې لګه درګه کي، موني په داسي حال کي چي د « کابلی والا »، « کابلي والا » چغي یي وهلي، له کوره را و وتله . د رحمت څېره د موني په لېدو سره د ګُل په شان وغوړېدله . نن له رحمت څخه د میوو لو توبره نه وه . له دې امله یي د نورو ورځو په دود یادونه او پوښتنه و نه سوه؛ اما میني د پخوا په شان له رحمت څخه پوښتنه وکړه : « کابلییه! ته واده نه کیي؟ ته د خُسر کره نه ځې؟ » رحمت په خندا ور غبرګه کړه : « هو! هو! هورې ځم . » خو کله چي یي ولیده، موني د ده له جواب څخه خوند نه دئ اخیستئ، نو یي د لاس په ښورولو سره ورته و ویل : « خُسرګنی والا به مي نن ډېر وهلي، ټکولي وای؛ خو څه که یي، چي لاسونه مې تړلي دي . » رحمت سپاهیانو له ځانو سره بوتئ؛ او پر ټپي سوي پوروړي د خپل وژونکي ګوزار له امله څو کاله بندي سو .

موږ ټولو د څو ورځو په تېرېدو سره، کابلی رحمت هېر کړ؛ او هر یو د پخوا په شان په خپل کار او ژوند اخته سوو. زموږ په زړوکي هیڅکله دا احساس نه پیدا کېده، چي د غرنی سیمي یو پټان ولي په مابس کي شپې او ورځي تېریي . موني هم ډېر ژر خپل پخوانی ملګری، رحمت، له زړه و ایستئ؛ او له نبي سایيس سره یي شریکي واچوله . دا چي موني هم له خپلو خوږو خاطرو سره سره هغه هېر کړ، ماته ډېر شرم درېدئ . حقیقت دا ؤ، چي د

وخت په تېرېدو سره يې خپل ګرده پخواني شريکان او ملګري هېر کړه؛ او له نوو شريکانو او همزولو سره يې د دوستی او لوبو نوی پړاو پيل کړ . اوس خو زما خوني ته هم ډېره لږ را ځي؛ او داسي ايسي، لکه زما سره چي هم خوابدی سوې يې .

ډېر کلونه تېر سوه، همغه د مني موسم ؤ . د موني د واده پرېکړه سوې وه . د عبادت کولو په رخصتيو کي يې د واده مراسم پر ځای سوه؛ او بالاخره هغه ورځ را ورسېده، چي موني نور زموږ د کور ښکلا، مينه او رڼا د ځُسرګنی کره وړه .

ننني سهار ډېر ښکلی او زړه وړونکی دئ . داسي برېښي لکه باران چي په خپلو پاکو او زلالو څاڅکو هوا له ګرز او دوړو پرېولي يې . هر څه د لمر و زرينو وړانګو ته ځلېږي . تر دې چي ان د کلکتي د زړو کورو ماتي خښتي هم د لمر و پلوشو ته ښايسته او په زړه پوري ښکاري . زموږ په کور کي له سهار وختي څخه شهنايي نغمي خپرېږي؛ خو هر راګ يې د خوشالی پر ځای زړه را کښېکاږي . داسي را ته مالومېده، چي د شنهايي نغمي د موني د راتلونکي بېلتانه له کبله زما د خوږمن او غمجن زړه درد د لمر د شغلو او پلوشو په شان په درسته نړی کي خپريي . له سهار څخه په کور کي د خلګو شور او ږوږ دئ . د کور په غولي کي د تجير د درولو دپاره د بانږس لکړي درول کيږي . په خونو کي دننه او بهر هم د فانوسو ځړولو ټک ټک اروېدل کيږي . د خلګو د تګ را تګ او چغو نارو په سَوَب دونه ږوږ او غولماغول دئ، چي که سړی د ښه اروېدو په مقصد لاسونه له غوږو سره هم و نيسي، بيا هم څه نه اروېدل کيږي . خير، زه هم په خپله خونه کي ناست يم؛ او د واده د ننيبو مراسمو د لګښتو حساب کتاب ليکم . په همدې ترځ کي ناڅاپه کابلي رحمت سلام وکړ؛ او مخ ته مي و درېدئ . واردواره خو مي ببخي و نه پېژندئ؛ ځکه نه آپخوانی توبره ورځخه وه؛ نه يې آ پخواني اوږده وېښتان پاته وه؛ او نه يې هم آ پخوانی واک او ځواک . ور ږغ مي کړه : « رحمته! کله راغلئ يې! » هغه و ويل : « بابوجي! پرون ماښام را ايله سوم . » د هغه دا جواب مي پر غوږو ښه و نه لګېدئ؛ ځکه ما هيڅکله خوني او وژونکی سړی نه ؤ لېدلئ . په ليدو يې و ببرېدم . زړه مي غوښته، چي ژر تر ژره يې له کوره رخصت کړم . ورته ومي ويل : « نن زموږ په کور کي څه مراسم دي؛ هيڅ وخت نه لرم؛ نن ولاړ سه؛ کم بل وخت به بيا خبري سره کوو . » چي دا خبره يې واروېده، سمدلاسه ولاړ سو؛ او د رهي کېدو تکل يې وکړ . تر دروازې پوري ولاړئ؛ خو بيرته را وګرځېدئ؛ او په ژرغوني اواز يې و ويل : « يو پلا موني نسم ليدلای؟ » رحمت سوچ کاوه، چي موني د پخوا په شان کوچنی او ماشومه ده؛ او د پخوا په دود به د « کابلي والا » ، « کابلي والا » په نارو، په منډه منډه را ووزي؛ او د دواړو تر منځ به بيا هغه پخوانی خنداوي، مرکي او د زړه خواله پيل سي . رحمت د انګورو يوه کوچنی سَوَده، څه کشمش او بادام هم له کم پټان وطندار څخه اخيستي وه؛ او موني ته يې د ورکولو دپاره له ځانه سره راوړي وه؛ پدې چي د ده خپله توبره خو نوره نه وه . ورته و مي ويل : « رحمته! نن په کور کي څه مراسم دي؛ ځکه نو موني له هيچا سره نه سي کتلای . » د دې جواب په اروېدو سره ډېر خواشينی سو؛ يو ګړی دم ودود ولاړ ؤ؛ وروسته يې مخ راواړاوه؛ او ويې ويل : « بابوجي سلام! » او له کوره ووتئ . د دې دردناک او ځورونکي حالت په لېدو سره مي زړه و رپېدئ . زړه مي غوښته، چي بيرته يې را وګرځوم . زه لا په همدې سوچو او اندېښنو کي ډوب وم، چي هغه بيرته دې خوا ته را رهي ؤ . سَوْکَه سَوْکَه را نيژدې سو؛ او په کراره يې و ويل : « دغه څه انګور او کشمش مي د بچی دپاره راوړي دي؛ دا ورکئ! » غوښتل مي د هغو په بدل کي څه پيسي ورکړم؛ خو هغه زما لاس ونيوئ؛ او ويې ويل : « بابوجي! تا پر ما ډېره مهرباني کړې ده، چي زه يې هيڅکله نسم هېرولای؛ پيسي نه غواړم . ستا د لور، موني، په شان زما هم يوه لور ده . موني ته د څه

میوو په راوړلو سره، زه په حقیقت کي خپله لور را یادوم . د سودا خرڅولو دپاره نه یم راغلئ . » تر دي خبرو وروسته، هغه د خپل غټ او اَرَت کمیس په جیب لاس ننه ایستئ؛ او یو پیچلئ، خیرن کاغدیي ځني را ویست؛ او په ډېر اتیات ( احتیاط) سره یي په دواړو لاسو زما پر مېز وغوړاوه . پر هغه کاغذ د یوه کوچني ماشوم د لاس نخښه چاپ سوې وه . نه عکس ؤ، نه انځور . کابلي رحمت د خپلي لور پر لاس رنګ موړلئ ؤ؛ او د هغه نخښه یي پر کاغذ چاپ کړې وه . هر کال چي به کلکتي[۲] ته راتئ؛ او پر کورو بي مېوې او نور شیان خرڅول، د پردېسي په شپواو ورځو کي بي د خپلي لور د لاس هغه نخښه له زړه سره موښلوله . ښایي په دې ډول بي د لور د بېلتانه درد او غم لږېدئ .

کله چي مي د رحمت د لور د لاس نخښه ولیده، زما هم سترګي له اوښکو ډکي سوې . هغه مهال زما او رحمت تر منځ هیڅ توپیر نه ؤ . ما دا خبره له دماغه و ایسته، چي هغه یو عادي مېوه خرڅونکی او زه په یوه لوړه بنګالي کورنی پوري اړه لرم . ما د سر په سترګو ولېده، چي هغه هم زما په څېر یو پلار دئ . د یوې غرڅنی کوچنی نجلی د لاس دې نخښې ما ته سمدلاسه خپله موني را یاد کړه . فوراً مي له کور څخه خپلي خوني ته را وغوښتله . په کورکي خپلو او مېلمنو ښځو ډېري ایسته و دوري و ویلي؛ خو ما یوه هم وا نروېده .

موني، په ډېر شرم او حیا د ناوې په جامو کي، په داسي حال کي، چي سره وریښمینه ساړی یي اغوستي وه؛ او پر تندي یي د صندلو د بوټو لیکي کښل سوي وې، زما کوټي ته راغله او تر څنګ مي ودرېده . کابلي رحمت د موني په لیدو سره لار او ګودر ورک کړه؛ د موني تر اغېزې لاندي یي ژبه ټپه ودرېده. وروسته یي کرار کرار زړه ور غټ کئ؛ او په خندا خندا یي ورته و ویل : « موني بابا! د خُسر کره ځې؟ » البته، اوس د موني په دې خبره ښه سد رسیږي، چي خُسر او خُسرګنی څه ته وایي . له دې امله یي د ماشومتوب په شان د رحمت د پوښتني جواب ور نکړ؛ او له شرم و حیا یي مخ بلي خوا ته واړاوه . په دې شېبو کي مي، څو کاله مخکي، د موني اوکابلي د لیدلو لومړنی ورځ را یاد سوه، چي زه هم ورته اندېښمن وم .

موني مي د کابلي تر لیدو وروسته، بیرته کورته ولېږله . د موني تر خدای پامانی وروسته، رحمت سړه سا و ایسته؛ او پر مځکه کښېنستئ . د خیالو او سوچو په دونیا کي ډوب سو. پوه سو، چي خپله لورکی بي هم په دونه ( دومره) وخت کي د موني په شان لوه سوې یي؛ او اوس نو باید د لویانو په ډول خبري ور سره وکي . خدای ته مالومه ده، چي په دې اتو کلو کي به پر هغې څه تېر سوي یي؛ او اوس بي حال څه یي؟ دا هغه پوښتني وې، چي ښایي د رحمت په زړه کي به ور ګرځېدې .

سهار ؤ . هر پلو د لمر زریني وړانګي وزرونه غوړولي وه؛ او د شهنایي ږغ هري خوا ته ازانګي کولي . رحمت چپه ( چوپه) خوله ناست ؤ؛ داسي ښکارېده، لکه په سترګو کي چي( چي یی) د افغانستان دنګ دنګ غرونه ور ګرځیده . هغه ته مي څه پیسي ورکړې؛ او ورته ومي ویل : « رحمته! دا پیسي واخله؛ او نور نو ژر تر ژره ځان وخپلي لور ته ور سوه! ستاسو پلار او لور له لیدو کتو څخه به زما د موني په ژوند او واده کي هم برکت ولوېږي . » رحمت ته د څه پیسو په ورکولو سره، ما د موني د واده خرڅونه څه نا څه کم کړه؛ د برېښنا د څراغو شمېر مو لږ کړ؛ بجه خانه مو را و نه غوښته . که څه هم ښځي له دې کبله ډېري خواشیني سوې؛ خو ما یي پروا و نه کړه . د واده مراسم په ډېري خوشالی سره بشپړ سوه؛ او ما په دې توګه داسي روحاني خوښي تر لاسه کړه، چي ښایي د نړی د هر راز وسایلو او سامانو له را غونډولو څخه مي نه وای په برخه سوې .

لندن، ۲۰۰۵ع کال

**لمنلیکونـه**

[۱]« والا » د هندي ژبي کليمه ده، چي د شاوندي يا وروستاړي په بڼه د زياترو هندي الاصله ژبو او پښتو په خورا ډېرو ترکيبي ټکو کي ليدله کيږي ؛ د مثال په توګه په هندي او اوردو کي وايي : دودهـ والا، ګهر والا، پوليس والا او داسي نور . دپښتو ژبي په لوېديځه لهجه کي هم د « والا » وروستاړی کـــېټ مټ په هندي بڼـــه باب دئ؛ مثلاً د دې لهجي ويونکي وايي : شيدې والا، مستي والا، کوروالا، دوکان والا او داسي نـــور . پـه دې ټـــولـــو بڼيي . دا کليمـــه له (possessive /genitive) ترکيبي ټکـو کي د « والا » شاوندی يا پسوند، مالکـــي حالـت ګرامري پلوه په راتلونکي نيژدې زمانه کي د يوه ټاکلي فعل پر کولو هـــم دلالت کيي؛ لکه : دېني والا، لېني والا ، جاني والا، آني والا او داسي نور .

« وال » د هندي « والا » لنډه او اوښتي بڼه ده . دا ټکی په پښتو کي د « وال » په شکل هم خورا پراخ استعمال لري؛ لکه : رودوال، سرپوزه وال، کوټه وال، کاروال او داسي نور . د پـارسي ژبي په پخوانيو متنو کي هم د دې ټکي يو و نيم مثالونه لــرو؛ کوتوال، چي له بده مرغه اوس له استعماله لوېدلئ دئ .

په دې ډول ګورو، چي د « وال » يا « والا » ورستاړی په پښتو ژبه کي خورا په پېخر کارېږي . پر ځای کارول يې نه يوازي بدي نه لري، بلکي د ژبي د لغوي زېرمي د پراخولو دپاره ډېر ګټور کار دئ؛ اما په خواشينی سره، چي نن سبا يې په ځينو ځايو کي د خپلسرو معيارو تر کرغېړن سيوري لاندي کاروَنه ډېره بې خونده او خندنئ ښکاري؛ مثلاً : قلاتوال، هيلمندوال، غزني وال او داسي نور؛ ځکه د کابل، قلات، کندهار، هيلمند، غزني، پېښور او داسي نورو جغرافيايي سيمو نومونه هيڅکله له « وال » سره خوند او ښکلا نه لري؛ او نه زموږ د خلګو په ژبه او کلتور کي باب دي . خلک له پېړيو پېړيو راهيسي د داسي نومو دپاره « کابلی »، « قلاتی »، کنداری ( کندهاری)، « هيلمندی »، « غزنيچی »،« بنوڅی » ، « پېښوری »، « پکتيانی » او داسي نور ټکي استعماليي . د « بلخي »، « لوګري »، « سرخابي » او داسي نورو سيمه ييزو نومو دپاره هم د « وال » شاوندی سم او خوندور نه ښکاري . په دې ټکو کي، چي له سوو کلو راهيسي زموږ په ژبه کي دود دي، سادګي، اساني، ښکلا، موسيقيت او د فصاحت و بلاغت ټول کمالونه نغښتي دي . نتيجه دا چي موږ بايد د « وال » وروستاړی په پټو سترګو له هر جغرافيايي نامه سره و نه تړو ؛ په بله وينا د خلګو په ژبه بايد د خپلسرو معيار و په نامه ملنډي او ډړی و نه وهل سي . له همدې جهته بايد، په خپله اصيله او لرغونی جوله ( باقاعده يا بې قاعده) خوندي وساتل سي .

[۲] کولکته يا کلکته د د ختيځ هندوستان دانګرېزي شرکت مرکز او تر ۱۹۱۱ع کال پوري د برتانوي راج پلازمينه يا پايتخت ؤ.

[۳] داسي ښکاري، چي کيسه د ډيورنډ د منحوسي کرښي  تر لاسليک (۱۸۹۳ع کال) وروسته مياشتو او کلو کي ليکل سوې يي .